# د خاطر اپریدي په شاعرۍ کښې تصوفي رجحانات

# Mystic feelings in the poetry of Misri Khan Khatir Afirdi

Atif Khan Afridi*

**ABSTRACT:**

Mysticism is a very popular phenomenon took its roots from the religious movements took place centuries ago around the globe. Each and every religion of the world has this inclination toward life. Actually mysticism propagates and teach to have a critical and realistic approach toward life and to guide the human toward leading a life purely based on religious teachings. Mr. Misri Khaqn Khatir Afridi is a well-known Pashto poet who is considered to be the leading poet of modern era. He has his own style, feelings, emotions reflected in his poetry. His poetry is very charming and attractive in the sense that he uses simple words and understandable language in addressing the masses. Khatir has colored his poetry with simplicity, sensibility and susceptibility therefore he is called as substitute of Hamza Baba at Khyber KPK. Some of the critics are of the view that after Rehman Baba, Khatir Afridi is the only poet whose poetry reflects simplicity, softness and purity. One of the significances of Khatir's poetry is that he has tries his best to represent the local cultural environment especially village life. Khatir has described the realities of life with romantic touch.. Rehman Baba is the most popular Pashto sufi and mystic poet who has based his poetry on the pillars of Sufism and Mysticism. In his poetry, Rehman Baba has attempted to prevent the human from doing sins and to guide them toward the end of life. Similarly Khatir Afridi has portrayed the same in his poetry. Although he cannot be called a rigid, radical and fundamentalist in his approach but he always use to have a moderate approach toward religion and its philosophy. He has focused humanity and the rights and duties of human in this world and after world. He never condemns worldly life but always use to teach to have a balance life in running affairs of life. This paper will elaborate a mystic approach to life, Khatir has described in his poetry. This

* PhD Scholar Pashto Academy University of Peshawar

will be very helpful for the researchers, intellectuals and even the common reader to know about this aspect of Khatir's poetry. I will endeavor my best to have a very clear and sold analysis of his poetry in special reference to Mysticism and Sufism

**Key Words:** Mysticism, religious, inclination, humanity, environment, fundamentalist, running affairs, analysis

ښاغلے مصري خان خاطر اپریدے د پښتو جدید دور د مېدان یو ښکاره نوم دے۔ په جدید ادب کښې د خپل انداز بیان، ژبې، لهجې، اسلوب او ځانګرتیا له وجې خپل شناخت او پېژندګلو لري۔ د دوي د شخصیت ، فکر او فن په حقله ډېرو پوهانو ، ادیبانو او شاعرانو خپل قلمونه پورته کړي دي او په خېبر کښې ئې د ستر حمزه بابا نه پس د خېبر ادب مقبول شاعر یاد کړے دے او هم ئې د دوي فکر او فن د خېبر ادب یوه عظیمه اثاثه ګرځولې ده ۔ دې ځواني مرګ شاعر چاته چې د وخت پوهانو د پښتو ژبې جان کیټس هم وئیلي دي، دومره روانه، سلیسه، عام فهمه، رنګینه او خواږه شاعري کړې ده چې دغه رنګ شاعري په پښتو ادب کښې پس د رحمان بابا نه بل کوم پښتون شاعر نه ده کړې۔ هر یو شعر ئې خپله اولسي او روماني خوشبو لري په شاعرۍ کښې ئې هر یو ټکے د فطرت مطابق ځائے کړے دے په کلام کښې ئې دومره موسیقیت، رومانیت، عشقیه او اولسي رنګ دے چې سندر غاړے د دوي په کلام وئیلو فخر محسوسوي او د اورېدونکو نه پرې داد اخلي۔

هسې خو د خاطر اپریدي شاعري د فکر په لحاظ ډېر ګڼ اړخونه لري لکه د دوي عشقیه ، روماني ، وطني ، مذهبي ، اخلاقي ، اصلاحي او اولسي شاعري او داسې نور خو د دوي د شاعرۍ په ځلنده اړخونو کښې یو اړخ د تصوف هم دے خو د دې نه مخکښې چې د دوي د تصوفي رجحاناتو جائزه واخستے شي بهتره به وي چې د تصوف په معنا، مطلب او په مفهوم په حقله هم داسې لږ شان خبرې اوکړې شي

د تصوف له باریکیو توبه
پاتې ښېې ابله فلسفې شوې زما[۱]

علم که د سائنس دے، که د فلسفې دے، که د ادب دے او یا که د نورو کومو څیزونو علم دے دغه ټول علمونه په خپل خپل ځائے ډېر ښۀ کردارونه لوبوي او زمونږه انساني ژوند د ضرورت مطابق نوي نوي حقیقتونه مخې ته راوړي خو دغه ټول علمونه تر اوسه پورے د کلي حقیقت په درک کولو کښې پاتې راغلي دي. په دې کښې که مونږ غور اوکړو نو واحد تصوف مونږ سره داسې یو علم دے چې دغه نورو علمونو نه په ډېرو حوالو ژور، لوئے او روحاني دے. د کلي حقیقت ته د رسولو واحد ذریعه دغه د تصوف علم دےاو دا هغه یوه روحاني سلسله ده چې د هیڅ قسمه د جغرافیائي پولو پابنده نه ده.

د تصوف تورے کوم چې "ص" سره لیکلے شي هغه په معنا کښې وړې ته وئیلے شي او چې کوم "س" سره لیکلے شي نو هغه دانش، پوهې او حکمت ته وئیلے شي چې په اصطلاح کښې په خپل نفس باندې غلبه کول او د هر قسمه د ګندګۍ او د غلطو خواهشاتو نه خپل نفس صفا کول دي. تصوف د کومې ژبې لفظ دے، له کومه ځایه راغلے دے او په بنیادي توګه کوم څیز ته وئیلے شي نو دا یو اوږد بحث دے په دې حقله د ډېرو لویو صوفیاء کرامو، محققینو، مورخینو، پوهانو خپل خیالات وړاندې کړي دي - په دې کښې ځنې وائي چې تصوف د فاضله اخلاقو نوم دے ، ځنې وائي چې تصوف د نفس د تزکیې نوم دے، ځنې وائي چې تصوف د اعلیٰ اخلاقو نوم دے او ځنې ئې د قلبي وارداتو او وجداني کېفیاتو مشتمله یوه داسې فلسفه ګڼي چې په هغې کښې په بنیادمو د شیانو حقائق منکشف کېږي خو تر دې دمه د تصوف داسې کوم حتمي تعریف نه دے شوے چې هغه مونږ د تصوف پورا او یو مکمل تعریف وګڼو او نۀ تصوف داسې د یو هیئت شے دے چې په یو ځل به ئې څوک حتمي تعریف اوکړے شي ځکه چې خدائے پاک هر انسان سوچ ، فکراو نظر د بل انسان نه جدا او په بل ډول پېدا کړے دے نو دغه شان د تصوف یا د معرفت تعریف هم هر چا د خپلې پوهې ، حکمت او د خپل نظر تر حد کړے دے.

اهل تصوف د حضرت امام باقرعلي بن حسین بن علي دا قول رانقل کړے دے چې

"*تصوف نیک خوئی کا نام ہے اور جو شخص جتنا زیادہ خوش خلق ہو گا، اتنا ہی اچھا وہ صوفی بھی ہو گا۔*"[۲]

ترجمه "تصوف د نېک خوئۍ نوم دے او کوم سړے چې څومره ډېر خوش اخلاقه وي. هومره به هغه ښۀ صوفي هم وي."

د حضرت عبدالقادر جيلاني ارشاد دے چې
"ترجمه"د خالق او مخلوق تر مينځه چې کوم حجابونه پراتۀ دي، د دغو حجابونو لرې کول تصوف دے۔"[۳]
اهل فن د تصوف دا مشهور قول رانقل کړے دے چې
"اتصوف قيام القلب مع الله"
"دل کو غیر اللہ سے منقطع کرکے صرف اللہ سے جوڑنا تصوف ہے ۔"[۴]
ترجمه "زړۀ د غېر الله څخه منقطع کول او صرف الله تعالي سره يو کول تصوف دے۔"

حسن بصري فرمائېلي دي چې
"معرفت اس کو کہتے ھیں کہ تمھارے دل میں کسی کہ خلاف ذرہ برابر دشمنی بھی نہ رہے ۔"[۵]
ترجمه "معرفت دې ته وائي چې ستا زړۀ کښې د چا په خلاف ذره برابر دشمني هم پاتې نۀ شي"

حضرت بايزيد بسطامي فرمائلي دي چې
"معرفت کی نشانی یہ ہے کہ تم مخلوق کی حرکات کو خدا کی طرف سے جان لو"
ترجمه "د معرفت نخښه دا ده چې تۀ د مخلوق حرکات د خدائے پاک د طرف نه اوګڼې"[۶]

د دې تعريفونو په تناظر کښې به دومره قدرې عرض اوکړو چې د خپل زړۀ يعنې روح د هر قسمه خطا ، ګنا ، شر، فساد ، بغض، حسد ، کينې او د بدۍ نه پاک ساتل يعنې په حقيقت معنو کښې د خپل نفس تزکيه کول ، اهل ښېتو سره د زړۀ د تل نه مينه کول ، د خدائے پاک مخلوق سره د ښو اخلاقو مظاهره کول او د الله پاک د پاک ذات معرفت او قربت حاصلول تصوف دے۔ دغه د تصوف علم د پېغمبرانو ميراث دے چې کلهم تعلق ئې د زړۀ سره دے او دا علم په سکول، کالج، يونېورسټې يا په مدرسه کښې نۀ حاصلېږي ځکه چې دغه د عشق خبرې دي او عشق د مذهبونو او مکتبونو نه ماوره څۀ بل څيز دے لکه رحمان بابا وائي

عشق یو هسې هنر نه دے چې حاصل شي له مکتبه
مکتب حال د مذهب وائي عشق سېوا دے له مذهبه [۷]

بیا د دغهٔ تصوف دوه غټې نظریې وحدت الوجود او وحدت الشهود دي چې یو بل سره دومره جختې دي چې فرق کول ئې د هر چا د وس کار نهٔ دے خو بیا په دې دواړو نظریو کښې د وحدت الوجود د نظرئې منونکي ډېر دي او هم ئې په شاعرۍ کښې زیات ځائے موندلے دے.

د وحدت الوجود نظرئې باني حضرت محي الدین ابن العربي دے او د وحدت الشهود د نظرئې باني مجدد الف ثاني ګڼلے شي. د وجود او د شهود مسائل د تصوف په بنیادي اصولو کښې شمېرلې شي او اکثر صوفیاؤ او شاعرانو په دې بحث خپل سرونه خوږ کړي دي. د دې دواړو نظریو پورا وضاحت کول ډېر لوئے وخت غواړي ځکه چې دغه ډېره لویه او باریکه موضوع ده چې خاص د دې لارې سړے نه وي اویا ئې صوفیاء کرامو په محفل کښې ناسته نهٔ وي کړې نه پرې پوهېږي.دغه بحث خو ډېر لوئے دے خو په لنډو ټکو کښې به د دې دواړو نظریو پحقله دومره قدرې عرض وکړو چې

وحدت الوجود

د وحدت الوجود نظرئې خلق وائي چې ذات یو دے، هر چرته دے او په هر څهٔ کښې موجود دے او د هغهٔ د وجود نه علاوه نور هیڅ هم نشته نابود دي او د کائنات ټول څیزونه د هغهٔ د ذات مظهرنه ګڼي.

وحدت الشهود

د وحدت الشهود منونکي وائي چې ذات یو دے او په کائنات کښې ټول څیزونه د حقیقي وجود سیورے یا عکس دے چې خپل وجود لري او دا د سلوک د لارې هغه مقام دے چرته چې د سالک د ښوئدو خطره هر وخت موجوده وي۔

د وحدت الوجود معنا ده "یو کېدل"او د وحدت الشهود معنا ده "یو لیدل" او دغه دواړه نظریې د الله پاک د وحدانیت قائېلې دي بس فرق پکښې صرف دا دے چې وجودیان په کائنات کښې چې هر څومره څیزونه ویني او محسوسوي ئې وائې چې د دې څیزونو خپل وجودونه نشته بلکه دغه د یو حقیقي وجود په مختلفو شکلونو کښې اظهار شوې دے

او شهوديان وائي چې کائنات کښې موجود څيزونه د حقيقي وجود يعنې د الله پاک د وجود نه مستعار دي يا ئې عکس او سېورے دے او دا هر څۀ خپل وجود او خپل انفراديت هم لري.

شاعري د يو شاعر د جذباتو د اظهار نوم دے اوتصوف په دې جذباتو کښې پاکوالے او شدت پېدا کوي چونکې د تصوف ضمير عشق الهي دے چې بېخي د يو پاک جوش او لوئې مقدسې جذبې ته وئيلے شي۔ دا جذبه په بنيادم کښې اوچت اخلاق ، روحاني ژوند او پوهه پېدا کوي نو په دې وجه په شاعرۍ کښې د تصوف مضمون ځائے اونيوۀ. تصوف صرف پښتو شاعرۍ ته نه بلکې ټولې مشرقي شاعرۍ ته ئې ډېر تقويت ورکړے دے او په شاعرۍ کښې ئې هم بيا د غزل صنف ته يوه جدا زاويه ورکړے ده. عربۍ او فارسۍ کښې د غزل يو جوت مضمون تصوف د دغو دواړو ژبو د کلاسکي غزل بنياد د صوفيانه فکر په تشريح اډانه لري. د فارسۍ حافظ شېرازي، مولانا روم او ورستو د هندي سبک په شاعرانو کښې د مرزا بېدل د غزل روح هم دغه صوفيانه فکر دے.
پښتو ډېره زړه ژبه ده. د دغه ژبې ويونکي اکثر رواجونه اسلامي تعليماتو سره ډېر زيات نزديکت لري ځکه د دغه ژبې د شعري ادب مزاج هم اسلامي دے او د دے ژبې د شاعرانو ديوانونه د صوفيانه افکارو نه ډک دي. د پښتو ژبې د اول دور شاعران لکه امير کروړ، بېټ نيکۀ، شيخ اسمائېل او ملک يار غرشين وغېره ډېر بزرګان خلق وو دوي په خپله شاعرۍ کښې د خالق کائنات او د رسول الله د مينې ، محبت او اخلاقي ژوند درس ورکړے دے. کلام ته ئې که څۀ هم پورا تصوفي کلام نشو وئېلے خو دومره دا چې دوي په خپلو دعائيه، مناجاتي او رجزيه کلامونو کښې د درويشۍ، د سپېځلي اخلاقو او د تزکيه نفس د صوفيانه افکارو د پاره د يو پاوړۍ کار ورکړو.په پښتو شاعرۍ کښې د تصوفي افکارو اغاز بايزيد انصاري او د هغۀ د مکتب فکر شاعرانو کړے دے. بايزيد انصاري يو ګڼ اړخيز شخصيت وۀ دوي د يو منفرد مسلک بنياد کېښودو او هم ئې د تصوف د پاره اتۀ مقامات اوټاکل لکه شريعت، طريقت، حقيقت، معرفت،قربت،وصلت،وحدت او سکونت. د بايزيد انصاري چې خپلو مريدانو به ورته پير روښان او اخون درويزه بابا او د هغۀ مريدانو به ورته پير تاريک وئېل د دوي دغه

اتۀ واړو مقاماتو تبلیغ د هغۀ مربدانو د شعر په ذریعه کړے دے بیا چې کله د پښتو د ژبې پلار ستر خوشحال بابا دور راغے او په قلم ئې لاس پورې کړو نو په کمه موده کښې ئې پښتو ادب پنګې ته دومره څۀ اوبخښل چې پښتو ادب به پرې همېشه همېشه فخر کوي.خوشحال بابا که څۀ هم عملي صوفي نه وۀ خو د تصوف د اسرارو او رموزو نه ډېر زيات خبر وۀ. د دوي په تصوفي اشعارو کښې داسې ډېر اشعار شته چې ځان ځانله کتابونه پرې ليکلے کېدے شي لکه څرنګه چې د دوي په يو شعر باندې حمزه بابا ځانله کتاب ليکلے دے او هغه په دې شعر چې

په هر څۀ کښې ننداره د هغۀ مخ کړم
چې له ډېرې پېدائيې نا پديد شۀ [۸]

بيا دغه رنګ د خوشحال بابا نه پس د پښتو ژبې تر ټولو شاعرانو نه زيات مقبول شاعر عبدالرحمان بابا، عبدالحميد بابا،عبدالقادرخان خټک، کاظم خان شېدا، کامګار خټک، مصري خان ګګيانړي ، معزالله مهمند او بي بي حليمه خټکه په کلامونو کښې تصوفي اشعار زيات په غورځنګ ښکارېدي نه علاوه په خواجه محمد بنګش،قلندراپريدے،علي خان، بېدل هشنغرے، قاسم علي اپريدے او حاجبزاده محمدي هغه شاعران دي چې د تصوف په خواږو ئې خپل کلامونه رنګين کړي او خواږۀ کړي دي دغه شان د تصوف دغه اثرات د کلاسک نه تر د جديد دور پورے او تر د حمزه بابا پورے راورسېدل.

حمزه بابا د پښتو ادب هغه ګڼ اړخيز شخصيت دے چاته چې د پښتو د غزل پلار وئېلے شي، ځوک چې د کلاسک او د جديد ادب تر مينځه د يو اهم پل حثيت لري او چا چې تصوف ته د پښتونولۍ جامه ورواغوسته او په داسې ښکلي ډول ئې تصوف دغه سخته فلسفه په دومره په اسانه په پښتو ژبه کښې د نظم او په نثر دواړو صورتونو کښې وړاندې کړه چې اوس ځوک هم حمزه بابا ولولي نو وائي چې زه په تصوف که ډير نه وي لږ خو ضرور پوهه شوم. حمزه بابا زياتره شاعري تصوف ده او په تصوف کښې د وحدت الوجود د نظرئي قائيل دے او په طريقه کښې د چشتيه د سلسلے مسلک خاوند دے. حمزه بابا تصوف د مايوسۍ فلسفه نه ده او نۀ ئې تصوف د يوناني يا هندي اثراتو لاندې

راغلے دے د هغه تصوف پښتون تصوف دے او داسې پښتون تصوف چې له اثره هیڅ یو پښتون لیکوال،شاعر او ادیب نه دے پاتې شوې هم دغه وجه ده چې د دوي د دې پښتون تصوف د رجحاناتو نه خاطر اپریدے هم بچ پاتې نه شو او د ژوند په اخري وخت کښې ئې په شاعرۍ کښې د تصوفي رجحاناتو غزونې وکړه . خاطراپریدے عملي صوفي نۀ وۀ خو په شاعرۍ کښې ئې د تصوف نخښې واضحې ښکارې چې د دې خبرې اګاهي ورکوي چې د تصوف د اسرارو او رموزو نه که ډېر نۀ وۀ لږ خو ضرور خبر وۀ. د دوي د ژوند او د افکارو نه معلومیږي چې دوي د خپل ژوند په اخري حصه کښې د تصوف په دنیا کښې قدم ایخښے دے ځکه خو ئې په کلام کښې هم تصوفي رجحانات د شاعرۍ د نورو اړخونو په نسبت کم دي.

وسیم اکرم ممتحن شینواري وائي

" خاطر اپریدے که څۀ هم یو عملي صوفي نۀ وۀ خو دا هم په یقین سره نۀ شو وئیلے چې خاطر ګني بیخي د تصوف د رموزو نه نا خبره وۀ ځکه چې مونږ ته د دوي په ژوند او شاعرۍ کښې ډېر داسې اثار ښکاري چې د هغې په بنیاد مونږ وئیلے شو چې خاطر د ژوند په اخري وخت کښې د ځان د پاره د تصوف لار غوره کړے وه خو ډېر افسوس چې هغۀ سره ژوند وفا اونکړه او ډېر په ځوانۍ کښې ئې له دې فاني دنیا نه سترګې پټې کړے " [۹]

خاطر اپریدي په خپلو اشعارو کښې د تصوف ابتدائي کېفیاتو څرګندؤنه داسې کوي.

اشنا که تاته په کتو پوئې شوم
نو بس په ټولو تماشو پوئې شوم مخ [۱۰]

چې ئې دا ستا د مخ کتاب اولیدو
د دهر واړه حسابونه پټ شول [۱۱]

ستا د راتلو ئې څومره لافې کړلې
چې راغلې واړه طاقتونه پټ شول

مه راښکاره کېږه په هر څۀ کښې د چا مخه
له مې د زړګوټي سرو لمبو ته ډېرې شپې دي

ځان رانه ورک شولو خپل ځان نۀ وینم
د چا نظر مې په نظر ګڼه شوے

او یا لکه دغه شعر چې

نورو مهرویانو هم دریغه چې لېدلې وې
بل رنګه ادا وشوه ستا د غلیو سترګو نه

د تصوف غرض و مقصد دا دے چې انسان خپل هر څۀ د خدائے پاک مبارک ذات ته اوسپاري او د دنیا د سود و زیان هیڅ غم اونکړي او فقط د الله پاک او د هغۀ د محبوب په مینه مست اوسي او داسې قناعت ایختیار کړي چې د خپل یار رضا خپله رضا اوګڼي نو خاطر هم په دې ځائے پوهه شوے وۀ ځکه خو وائي

د بدو خو تپوس مې نه دے کړے
چې ستا د لاسه نه هر څۀ وي ښۀ دي

خاطر په خپله غریبۍ او فقیرۍ ځان ملامت نۀ ګڼي وائي چې که چرې دا خلق پوهېدے چې حقیقت څۀ دے نو ماته به کله هم ملامت نه وې وئیلے شوي

زما د سترګو ملامته نشته
خو چاته ستا د سترګو پته نشته

پسې وائي

منعې به نۀ شم ستا د دره ځنې
په دې دے نۀ یم چې څۀ نه راکوې

چې ړوند او ګڼه دې کړمه ماله ښه شوه
اوس خو به هر څۀ په کالۀ راکوې
دا خوشحالي به ماله څوک راکوي
چې ټول غمونه راله تۀ راکوې

خاطر اپریدے هسې هم ډېر ساده، ملنګ او فقیر سړے وۀ خو چې کله بیا د حمزه بابا محفل ته راغے او د صوفیاء کرامو بحثونه ئې اولیدل او واورېدل نو په خاطر کښې ئې دغه خپل فقر او ملنګي نوره هم سوا او پخه کړه.د حمزه بابا فېض او دوي سره په یو محفل کښې د ناستې په خاطر داسې اثر اوکړو چې تر مرګه خاطر بیا دغه ټولۍ پرې نۀ ښودو ، په خپل کمزوري او بیمار وجود به هم راتلو او په دې صوفیاؤ محفل کښې به ئې ګډون کولو او په دې خبره هم پوهه شوې وۀ چې په شعر شاعرۍ کښې چې دا نن سبا زما کوم مقام او مرتبه جوړه شوې ده دا هم د حمزه بابا د فېض او د هغۀ د لاس نېوي برکت لکه چې وائي

بد خواه هم پورته ورته نشي کتے
چا چې د ښو خلقو ناستې کړے دے

چې شاعران مې اوس پښې ښې څپوي
ما د حمزه نه لاس نېوے کړے دے

په خاطر اپریدي باندې د حمزه بابا د تصوفي رجحاناتو اثر دومره شوې وۀ چې بغېر د دوي د لاس نېوي نه ئې په بل څۀ ګذاره نۀ کېده او د دوي تصوفي افکار ئې دومره خوابښ وۀ چې د خوشحال بابا او د رحمان بابا په شان شاعران چې د پښتو ادب دوې لوئې ستنې دي. د حمزه بابا یو غزل سره د دوي دواړو دیوانونه نه سموي لکه چې وائي

د حمزه د یو غزل سره سم نۀ دي
دیوانونه د خوشحال که د رحمان دي

په تصوف کښې د انسان د نفس تزکیه کېږي. انسان پکښې په روحاني توګه صفا کولے شي بیا دغه د ذکر الهي ورد او وجد د هغۀ فکر همېشه د پاره د خپل رب دیدار د سعادتونو سره اوتړي او هیڅ وخت ئې هم رجحان په بل لوري نه شي ګرزېدلے. دغه شان چې بیا کوم خواه نظر کوي نو د خپل معبود او محبوب د قدرت نخښې او جلوې ورته پکښې لیدے شي.

هر چرته چې ګورمه په هر چا کښې هم تهٔ ښکارې
ځان هم راته تهٔ ښکارې د چا محفل ته راغلمه

اووینمه ځان چې اشنا نهٔ ښکاري
وینم چې اشنا نو ځان به څهٔ ښکاري

او یا لکه دا شعر چې
مقصد دے یو که وایم زهٔ او که تهٔ
اول زما او که دا ستا اووایو
په تصوف کښې یو مقام داسې هم راځي چې انسان ته بیا د حق د لیدو په مقابله کښې د خپل ځان د لیدو هیڅ احساس نه کېږي نو خاطر اپریدي هم د دغه ځائي څکه د خپل حساس ضمیر په بنیاد کړے ده لکه چې خاطر وائي
کله چې په فکر کښې دا ستا شمه
لاړ شمه د ځانه خو بیا راشمه

لړ راشه شمعې رویه تهٔ مې اوګوره چې څهٔ شوم
دا ستا په تماشه کښې مې د ځان نه سترګې لاړې
مونږ مخکښې وئېلي دي چې خاطر عملي صوفي نه وهٔ مطلب په عملي توګه له نهٔ وهٔ راغلے نود دوي د افکارو په حقله به څهٔ اووایو چې زیات د کومې نظرئې ملګرے وهٔ خو چونکه حمزه بابا د وحدت الوجود قائېل وهٔ نو په دې کښې شک نشته چې خاطر هم د دې نظرئې غړے وهٔ بله دا چې څومره د دوي دا تصوفي اشعار دي نو د دې نه هم دا څرګندېږي چې خاطر په تصوف کښې د وحدت الوجود د ملګرو ملګرتیا کړے ده ځکه چې خوشحال بابا وائي
په هر څهٔ کښې ننداره د هغهٔ مخ کړم
چې له ډېرې پېدائیې نا پدید شهٔ [۱۲]
دغه رنګ رحمان بابا وائي

معرفت د خدائے ځرګند په هر ځۀ کښې
سترګې اوخوره چې څوک دومره نظیر نه کا [۱۳]

خوشحال بابا او عبدالرحمان بابا هم په بنیادي توګه د وحدت الوجود د نظرئې قائېل وو ځکه خو په هر ځۀ کښې د حق ننداري هم کوي او حق دے چې د خدائے پاک معرفت په هر ځۀ کښې موجود دے او کیږي خو که د چا د زړۀ سترګې بینا وي.نو هم دغه کېفت خاطر اپرید ے په دغه رنګ بیانوي

هر سړے دا ستا د دیدن وړ نۀ دے
دا خو هم زړۀ غواړي هم لېمۀ غواړي [۱۴]

خاطر اپریدي باندې چې کله د خپلې مینې وجد طاري شوې دے نو بیا ئې ځۀ بل شان رندانه روپ ایختیار کړے دے. په دې روپ کښې خاطر بیخي هغه مځکینې خاطر نه ښکاري او دا ټول د مینې او د محبت حالاتونه او کېفیاتونه دي چې په عاشق باندې طاري کېږي۔

شراب مې وینې او دا حال نۀ وینې
زاهده دا نو د توبو شپې دي [۱۵]

راشه اے زاهده نن خو خوند د مئېو واخله
نورې به بیا اوباسې توبې خو لږې نۀ دي

ځۀ اوشو خاطره که ئې مخ په پلؤ پټ دے
نوره ئې سهي کړه تماشې خو لږې نۀ دي

یا د ثاقي د مئېو خوند نشته دے
یا زۀ ایله اوس په نشو پوئې شو

او یا لکه دغه شعر چې

څۀ په عاجزۍ ئې د ثاقي په مئ عادت کړم
مینې د مستۍ نه اوس توبې راپسې کړي

خاطر اپریدي ته ښه ډېره ناسته د صوفیاؤ په محفل کښې نصیب شوې وه او ښۀ ډېر بحثونه ئې د تصوف پحقله لیدلي او اورېدلي دي، په رحمان بابا مشاعره کښې به ئې هم حصه اخسته، په پیر بابا ئې نظم هم لیکلې دے چې پکښې ئې پیر بابا مشکل کشا ګرځوالے دے او هم ئې حمزه بابا سره په مختلفو ځایونو
کښې مشاعرې کړې دي او تر دې چې بابا سره به ئې په حجره کښې شپې هم کولې نو د دې ټولو خبرو په تناظر کښې مونږ وئېلے شو چې خاطر په حقیقت کښې ډېر ملنګ او فقیر سړے وۀ دا ورته مکمل پته وه چې حق لارې ته د رسېدو د پاره د تصوف نه غوره او افضله لار نشته.

ستا د منزل په منزلونو کښې یم
د رسېدو په امېدونو کښې یم

نه مې دنیا نه مې عقبا خوا ښېږي

دې سودا دې فکرونو کښې یم
د ستا منزل دې دومره نور لرې شي
ګډو ړاندو ته تیندکونه څۀ دي

ګلفامه څو که لرې اوسې له ما
زۀ دې د نم په بهېدو کښې وینم

تۀ خو مې وېنې که څوک نۀ پوهېږي
زۀ دې ورک شوې په کتو کښې نه یم ؟

دومره ورنزدې یم که څو لرې یم
لرې به شم نور که ور نزدې شومه

هم تهٔ مې سترګې غرقې کړه د حسن سمندره
وتلې مې له تا کله بهر ته سترګې دي

او یا لکه دا شعر چې

ما هم غبرې مینې اووستې د زړهٔ نه
اشنا تا چې د کعبې نه بتان وښکل

خاطر اپرېدے د منصور حلاج د واقعې نه هم ښهٔ خبر وهٔ. هغهٔ ته دا هم معلومه وه چې منصور حلاج په حقه وهٔ ، چې څهٔ کول ټېک ئې کول او چې څهٔ وائېل نو بالکل صحيح ئې وائيل خو افسوس چې خلق د هغهٔ د زړهٔ په اصلي مدعا نهٔ پوهېدل. د منصور حلاج مرسته او د هغهٔ د خبرو ملګرتيا هرڅوک نشي کولې دا صرف د عشق لیوني کولے شي او د هغو ليونو په قطار کښې يو نوم د خاطر هم دے ځکه چې خاطر هم د مينې ليونے وهٔ لکه چې وائي

چې دا ستا په نوم بدنام يم پروا نشته
لېوني غړونه تل په لېونو شي

منصور حلاج په حقله وائي

منصور په لار د حق روان وهٔ رښتيا
خلقو ئې کړے دا لېونے خبرې

ادم به نهٔ ورکوؤ ټنګ رباب له

ورته ئې کړے د دور خانئ خبرې
ګرانه نه ده ستا ياري خو چې په سر وي
منصور ځکه د يار شو چې په دار شو

که د منصور غوندې په دار شمه هم
ستا د صفت به توبه ګار نه شم

خاطره داسې ګذار عشق راکړو
چې بل ګذار ته به تیار نه شم

زړۀ له مې دارو دي او د سترګو مې کجل دي
خاوره ئې خاطره چې د پښو نه پاتې کېږي

بل ځائې داسې کېفیت وړاندې کوي چې

د منصور خو هسې نوم دے په دنیا کښې
که یقین دې شي چې هر عاشق په دار دے

لنډا دا چې خاطر اپرېدے که څۀ هم په بنیادي توګه عشقیه، روماني او اولسي شاعري کړے ده خو ولې په کلام کښې ئې نور هم ګڼ اړخونه په نظر راځي چې په هغې کښې ئې یو ښکاره اړخ د هغۀ صوفیانه شاعري هم ده. خاطر اپریدي ډېر په کم عمر کښې ډېرې لوئې، پخې او د راز او نیاز خبرې کړې دي چې په دې خبره ګواهي ورکوي چې هغه د تصوف د اسرارو او رموزو نه که ډېر نه وۀ لږ خو ترې ضرور خبر وۀ۔ د دوي ژوند او افکارو ته چې ګورو نو یقینا چې د تصوف د اعلی مقاماتو غمازي کوي او دا ترې څرګندیږي چې د ژوند په اخري برخه کښې تصوف طرفته ډېرمائېله شوې وۀ ۔ عملي صوفي نه وۀ خو د ستر حمزه بابا او د صوفیانو د ټولي اثر وۀ چې خاطر د تصوف په شان لوئې او نازکې فلسفې نه خدائے پاک بې برخې نه کړو. خاطر اپرېدے ډېر په کم عمر کښې د نرې رنځ د لاسه مرګ په مخه کړو او همېشه همېشه د پاره ئې زمونږ د سترګو نه پناه کړو. که چرې دوي لږ عمر نور پاتي شوي وې نو زما یقین دے چې خاطر به نور هم ډېر قیمتي څۀ په مونږ پېرزو کړي وې۔ په اخېر کښې د دوي د یو څو نورو شعرونو ذکر کول غواړم چې پکښې د خپل ځان د اخري وخت ذکر او هغه کېفیات د تصوف په ژبه کښې بیان کړي دي

څوک چې ستا په خیال کښې زنګېدلي دي
ګوره ئې چې چرته غورزېدلي دي

اوس خو زهٔ خاطر په ځان پوهېږم نه
تا چې کړمه داسې حېران څهٔ اوکړم

ستا د ښکلو سترګو بلا واخلمه
مخ دې کړمه سترګو بلها سترګو ته

د تصور په ائينه کښې چې هم تا لټوم
ځکه دا ستا په تماشه کښې حېرانتيا وړے يم

عبث لټون دے چې بے تا نه زهٔ خاطر لټوم
دا چې هم تهٔ راته موسېږې نو هم تا لټوم

دنيا راته راګوري د کتو نه اووتم
چې تا نه دي کتلي راته چا راوکتل

او يا لکه دا شعر چې

ستا تماشې وربانديې وکړل دومره
چې د خاطر د تماشو شپې دي

## حوالې


1. شینواري امیر حمزه خان، د حمزه بابا شینواري کلیات، پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي، چاپ کال ۱۹۹۷، مخ ۹۲
2. نظامی مشتاق احمد، مرتبہ عقائد اھلسنت، مطبوعہ، تجارت پرنٹنگ پریس لاہور، س ن ص ۲۰۰
3. شینواري امیر حمزه خان، تصوف مشموله غنچک، تحقیق ترتیب او تدوین کلیم شینواري، آریانا خپرندویه ټولنه، ډهکي نعلبندي، قیصه خواني پېښور، جون ۲۰۱۳، ص ۱۱۷
4. نظامی مشتاق احمد، مرتبہ عقائد اھلسنت، ص ۲۰۰
5. راغب الطباخ علامہ، تاریخ افکار وعلوم اسلامی، حصہ دوم، ترجمہ، مولانا افتخار احمد بلخي، ناشر اسلامک پبلیکیشنز لمیٹیڈ، وفاق پرنٹنگ پریس لاھور، اشاعت اول، ۱۹۷۴، ص ۱۵۰
6. ولي الدین میر ڈاکٹر، قران اور تصوف، پروگریسیو بکس، ۴۰ بي اردو بازار لاھور، اشاعت اول، ۱۹۷۹، ص ۸
7. عبدالرحمان بابا، دیوان عبدالرحمان بابا، مقدمه سید رسول رسا، یونیورسټي بک ایجنسي پېښور خېبر پښتونخوا، چاپشپاړسمځل، مارچ۲۰۰۹، مخ۱۷۵
8. خټک خوشحال خان، ارمغان خوشحال، مقدمه سید رسول رسا، یونیورسټي بک ایجنسي خېبر بازار پېښور، چاپ دریم ځل، ۲۰۰۹، مخ ۵۲۵
9. شینواري ممتحن وسیم اکرم، نا چاپ مقاله، د خاطر اپریدي تصوفي شاعري، ۳،۳۱،۲۰۲۱، مخ ۴
10. اپریدي مصري خان خاطر، د خاطر اپریدي کلیات، یونیورسټي بک ایجنسي خېبر بازار پېښور، چاپ کال ۲۰۰۴، دریم ایډیشن مخ ۵۴۵
11. همدغه اثر مخ ۳۴۴، ۱۱۵، ۱۸۲، ۲۴۵، ۱۵۱، ۳۱۱، ۴۴۵، ۲۸۰، ۱۴۲، ۱۹۲، ۲۱۵، ۱۹۵، ۴۹۲، ۴۲۴

12. ختټک خوشحال خان، ارمغان خوشحال، مقدمه سید رسول رسا ، یونیورسټي بک ایجنسي خیبر بازار پېښور، چاپ دریم ځل، **۲۰۰۹**، مخ **۵۲۵**
13. عبدالرحمان بابا ، دیوان عبدالرحمان بابا ، مقدمه سید رسول رسا ، یونیورسټي بک ایجنسي پېښور خیبر پښتونخوا ، چاپ شپاړسم ځل، مارچ **۲۰۰۹**، مخ **۱۲۷**
14. اپریدي مصري خان خاطر، د خاطر اپریدي کلیات، یونیورسټي بک ایجنسي خیبر بازار پېښور، چاپ کال **۲۰۰۴**، دریم ایډیشن مخ **۴۵۲**
15. همدغه اثر مخ **۴۷۲** ، **۵۴۰**، **۲۹۰** ، **۳۱۴**، **۵۳۴** ، **۴۵۸** ، **۵۳۸** ، **۵۴۳** ، **۴۹۵** ، **۴۲۴** ، **۲۵۸**، **۴۷۴** ، **۲۳۰**، **۵۵** ، **۵۳۲** ، **۴۷۸** ، **۲۹۳**، **۴۲**، **۵۴۸**، **۵۰۴** ، **۲۳۸** ، **۲۳۸**، **۵۵۳** ، **۷۴**

**References:**

1. Shinwari amir hamza khan, da hamza baba kulyat , pakhto academy pekhawar university , chap kaal 1997 , makh 96
2. Nizami mushtaq ahmad , martba aqaid ahle sunnat , matboia , tijarat printing press Lahore , sin noon swad 200
3. Shinwari amir hamza khan , tasauf mashmulla ghwanchak , tehqiq tartib aw tadwin , kalim shinwari , aryana khparandoya tolana , dahki nalbandi , qisakhwani pekhawar , june 2013 , swad 117
4.Nizami mushtaq ahmad , martba aqaid ahle sunnat , matboia , tijarat printing press Lahore , sin noon swad 200
5. Raghaib ul tbakh allama , tarikh afkar wo elom e islami , hisa dom , tarjuma mawlanaaftekhar ahmad balkhi , nasher Islamic bublications lemeted , wafaq printing press Lahore , ashaate awal 1974 , swad 150
6. Wali uo din mir doctor, quran our tasauf , progressive boks , 40 be urdo bazar Lahore , ashaate awal , 1979 , swad 8
7. Abdul rehman baba, diwan abdul rehman baba, moqadama said rasool rasa , university book agensy pekhawar Khyber pakhtunkhwa , shparasam zal , march 2009 , makh 175
8. Khttak khushal khan , armaghan e khushal , moqadma said rasool rasa , university book agensy , Khyber bazar pekhawar , chap drayam zal 2009 , makh 525
9. Shinwari momtahin wasim akram , nachap maqala , da khatir afridi tasaufi shairi , 03|31|2021 , makh 04
10. Apridi misri khan khatir , da khatir apridi kulyat , university book agensy Khyber bazar pekhawar , chap kal 2004 , drayam edition,makh 545
11. Humdagha asar makh , 344 , 115 , 182 , 245 , 151 , 311 , 445 , 280 , 146 , 196 , 215 , 195 , 492 , 424
12. Khttak khushal khan , armaghan e khushal , moqadma said rasool rasa , university book agensy , Khyber bazar pekhawar , chap drayam zal 2009 , makh 525
13. Abdul rehman baba, diwan abdul rehman baba, moqadama said rasool rasa , university book agensy

pekhawar Khyber pakhtunkhwa , shparasam zal , march 2009 , makh 167
14. Apridi misri khan khatir , da khatir apridi kulyat , university book agensy Khyber bazar pekhawar , chap kal 2004 , drayam edition,makh 456
15. Humdagha asar 472 , 29 , 54 , 314 , 534 , 458 , 538 ,543 , 495 , 464 , 258 , 474 , 23 , 55 , 536 , 478 , 293 , 42 , 548 , 504 , 238 , 238 , 553 , 74